AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

واحد فقیري

واشنګټن ۲۰۱۴/۱۱/۱۸

# د پاکستان ستراتیژیکه انزوا

د آزاد آزاد فکرونو نوو نوو

د تازه فکر تخمونو نوو نوو

کښت و نه کړي له سهاره تر ماښامه

کر و نه کړي ډېر کلونه شامدامه

دا سړی به په قرنونو انسان نه شي

هیڅ آزاد به له خپل بند او زندان نه شي

«مجروح»

پاکستان نن سبا په بین المللي سیاست کي د ستراتیژیکي سیاسي انزوا سره مخامخ دی. د پاکستان ډېر زبردست او پخوانی دوست، یعني امریکا، اسلام اباد ته د شک په سترګه ګوري. ځکه په افغانستان کي د امریکا ۱۳ کلنه ناکامه او له مشکلاتو ډکه مداخله واشنګټن ته دا په ډاګه وښوده چي په سیمه کي د فساد او تروریزم مرکز پاکستان دی. د امریکا اکثرو پخواني وزیرانو او عالي رتبه مامورینو پخپلو کتابونو او خاطراتو کي د پاکستان سخت مذمت کړی دی، او ټولو په یوه سلا د پاکستان په متعلق د امریکا په پالیسیو کي د تجدید نظر سپارښت کړی دی. د متحده ایالاتو د دفاع پخوانی وزیر رابرټ ګېټس، پخوانی لوی درستیز، جنرال مک کریسټل او داسي نور امریکایي مامورین پاکستان دوه مخی، چالباز، او د دوست په جامه کي دښمن توصیفوي.

پدي تېرو ۱۳ کلونو کي، اکثرو امریکایي پوځي افسرانو خامخا یو، یا دوه او حتی دري ځله په افغانستان کي د عسکري دوره تېره کړي ده. هغوی په افغانستان کي د پاکستان له منافقت څخه شخصي تجربي او کیسي لري. هغوی په ډېرو حادثو کي د پاکستان پل پخپلو سترګو لیدلی دی. دغه راز، اکثرو امریکایي دیپلوماتانو هم یوه یا دوې دورې افغانستان تېر کړی دی. هغوی پخپله دوره کي هره ورځ د پاکستان د سیاسي لوبو سره مخامخ ول، او د اسلام اباد دوکه او شرارت ئي له نژدې لیدلی دی. هغوی یو ډول ضد پاکستاني روحیه اخیستي ده. همدا خلګ نن ورځ په اردو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

کي لوی افسران یا جنرالان، په وزارت خارجه کي غټ دیپلوماتان، او په عمومي توګه د امریکا په ټولنه کي بانفوذه مشران دي. همدا خلګ د امریکا ګانده بهرنی او داخلي پالیسي جوړوي.

دغه راز، عام امریکایان هم د پاکستان په باب ښه نظر نه لري، په تېره بیا کله چي اسامه بن لادن په ابیت آباد کي د یوې پوځي اډې څنګ ته پیدا سو. امریکایان د نړیوال تروریزم په اکثرو پېښو کي د پاکستان ځرګ ویني. هغوی ګوري چي پاکستان د سیمي او نړیوالو مذهبي افراطیانو په میله ځای باندي بدل سوی دی. دې موضوع د پاکستان نړیوال موقف ته صدمه رسولې ده.

په همدې لړ کي، د پاکستان بل پخوانی دوست، یعني چین، هم د پخوا په شان د پاکستان سره ګرم روابط نه لري. د دې بدلون یو علت دا دی چي سوړجنګ ختم سو، او پاکستان خپل پخوانی اهمیت له لاسه ورکړ. په اغلب ګومان بل عامل ئې د مذهبي افراطیت سره د پاکستان نژدې اړیکي دی. د پاکستان دا لوبه په منطقه کي د چین له ګټو سره نېغ په نېغه په ټکر کي ده. ځکه چین په سیمه کي ثبات، امنیت، او د پانګوني ښه شرایط غواړي، خو د پاکستان دسیسو منطقه په دایمي بحران کي راایسار کړې ده. همدا جدي اختلاف ښایي د چین او پاکستان روابط په راتلونکي لا ډېر خراب کاندي، ځکه چین پخپله هم د ترکي الاصله چینایي مسلمانانو له مشکل سره مخامخ دی.

په اروپا کي هم پاکستان بدنامه سوی دی. هلته هم اروپایان پاکستان د بین المللي تروریزم او مذهبي افراطیت د ځالي په حیث پېژني. په لندن، او نورو اروپایي ښارونو کي د اکثرو تروریستي حملو ریښي پاکستان ته رسېږي.

بل پلو، په جنوبي اسیا کي په عمومي توګه یو داسي ستراتیژیک سیاسي او اقتصادي بدلون را روان دی چي د پاکستان د اوسنیو پالیسیو پر خلاف دی. دا ستراتیژیک شیفټ د ساړه جنګ را وروسته تر ټولو ستر تغییر دی. او هغه دا چي هند او امریکا سره نژدې کېږي. په بل عبارت، د امریکا په خارجي پالیسي کي هند پر پاکستان باندي چربې کړی ده، او امریکا په زیاتېدونکي توګه په سیمه کي پر هند باندي حساب کوي. هند د جهان له سترو اقتصادي طاقتونو او بازارونو څخه دی. هند سیاسي ثبات لري. یو پوخ او ټپاند ډیموکراتیک نظام لري. په واشنګټن کي غښتلی لابي لري، او هندي الاصله امریکایان د دې هېواد په اکثرو ایالتو کي فعال حضور لري.

په عین زمان کي، هند په هر لحاظ تر پاکستان مخته دی. د هند اقتصاد پر ځان بسیا، نړیوال او مخ په وړاندي روان دی. هند ستر عصري مارکیټ او ډېر زیات تحصیل کرده خلګ لري. هند مسلکي او شتمنه مینځنۍ طبقه لري، او د خارجي تولیداتو د رانیولو توان لري. خو برعکس د پاکستان اقتصاد یا تل ډیوالي وي او یا په ټېله چالانه کېږي. په هرو څو کلونو کي یوه کودتا خامخا په کښي کېږي. او تر ټولو خطرناکه لا داچي اوس ئې په کور دننه کي د مذهبي افراطیت توره بلا هم لنګه سوې ده. په بله وینا، اسلام اباد په هغه لومه کي بند سوی دی چي نورو ته ئې ایښي وه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

په عین حال کي په تېرو ۱۳ کلونو کي، د پاکستان سره د حامد کرزي د حکومت پالیسي له سره غلطه او زیانمنه وه. پخواني حکومت د افغانستان د ګردو امنیتي مشکلاتو پړه پر بهرنیانو او په تېره بیا پر پاکستان اچوله، او د قضیي له افغاني اړخه ئي چورلټ انکار کاوه. د کرزي صاحب حکومت پدي برخه کي هیڅ مسولیت نه مانه، او د افغانستان د سولي او امنیت په باره کي ئي پوره غفلت کاوه.

که څه هم بین المللي ټولني د کابل حکومت له هغه دریځ سره چي وایي د طالبانو مشران او پټنځایونه په پاکستان کي دي او اسلام اباد طالبان تقویه کوي، خواخوږي او همفکري لرله. مګر په عین زمان کي نړیواله ټولنه پدې هم ښه پوهېدله چي د حامد کرزي حکومت دننه وروست، بي کفایته او فاسد دی. مانا دا چي د افغانانو د پلوماتیک منطق یو ډېر قوي ټکی د پخواني حکومت بي کفایتیو بې اثره کړی وو.

البته، پدې کي شک نسته چي پاکستان طالبان جمع نور مذهبي افراطیان روزي، او څه زیات نفوذ هم باندي لري، مګر دا د دې مانا نه لري چي پاکستان هر څه کولای سي او یا د افغانستان د امنیت کیلي د اسلام اباد سره ده. مطلب دا چي افغانان لومړی باید دا ومني چي د افغانستان د سولي او امنیت مسله زیاتره خپلمینځي او بین الافغاني ده. په بله وینا، تر څو افغانان د خپلي لانجي لپاره خپله حل پیدا نه کړي، یوازي ئي د پاکستان همکاري ستونزه نه سي حلولای. ځکه که چیري پاکستان د طالبانو مشران او نور غړي لاس تړلي د کابل اداري ته تسلیم کاندي، بیا به هم همدا اداره د خپل ذاتي فساد او بي کفاتیې په وجه څه وخت وروسته یوه بله ډله افغانان دېته مجبوره کړي چي غرو ته مخه کړي او جنګ ورسره اعلان کړي.

لنډه دا چي د سولي او امنیت لپاره ریس صاحب محمد اشرف غني باید لومړی خپل کور منظم کاندي، او د افغانستان د حکومت بد شهرت په ښه نامه بدل کي. د سولي او امنیت په اړه باید د افغانستان حکومت سیاسي ابتکار پخپل لاس کي واخلي، او د طالبانو سره د خپلمینځي افغاني ډیالوګ او د قدرت د وېش لپاره منظم او جامع پلان ولري. ځکه بالاخره او په نهایي تحلیل کي د افغان د ستونزي حل بهر نه بلکي دننه په افغانانو کي دی، او د دې ناورین اصلي قربانیان خپله افغانان دي. په هېواد کي، سوله او امنیت هله راتلای سي چي افغانان د خپل برخلیک د ټاکولو ټینګ عزم وکړي، او «د ازاد او نوو» فکرونو د کولو جرات او ویسا تر لاسه کړي. نوی حکومت باید په افغانانو کي همدا روحیه غښتلي کاندي، او خپله هم د ابتکار، خدمت او کار مثال سي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ